مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۰۹/۰۸

# نړیوالي ټولنې

## ۸۰ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**
**آسیایي ټولنې:**

**۱۱ -- د جنوب د تلپاته پراختیا له پاره د علومو او تکنالوژۍ کمیسیون Commission on Science and Technology for Sastainable Development in the south (COMSATS):**
COMSATS یو نړیوال بین الدولتي تخصصی بنسټ دی چې په کال ۱۹۹۴ کې جوړ شو، ۲۵ غړي لري او دارالانشا يي په اسلام آباد (پاکستان) کې موقعیت لري. COMSATS هڅه کوي د اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا (انرژي، روغتیا، زده کړې، معلوماتي تکنالوژي او ژوند چاپیریال) له پاره علمی او تکنالوژیکی همکاري وهڅوي.
اهداف: د COMSATS اصلي هدف دا دی چې له پرمختیایي هېوادونو سره مرسته وکړي چې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره، پوره انساني او تکنالوژیکي سرچینې ولري او:
- غړو هېوادونو ته د ورو تکنالوژي د لېږد اسانتیاوې،
- د جنوب له پاره د جنوب د سرچینو څخه ګټوره استفاده،
- د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره د علمي او تکنالوژیکي امکاناتو پراختیا ته د پرمختیایي هېوادونو د پام اړول،
- په جنوب هېوادونو کې د وطني علومو او تکنالوژي د ظرفیتونو د لوړولو له پاره مالي او معنوي ملاتړ.

غړیتوب: د جنوب سیمي هېوادونه، معمولاً خپل یو مخکښ او فعال تکنالوژیکي بنسټ، د COMSATS غړیتوب ته ورپېژني. دا تخصصی بنسټ اوس ۲۵ اسیایی، افریقایي او امریکایي ( لاتین یا جنوب) غړی لری: بنګله دیش، چین، کولمبیا، مصر، ګمبیا، ګانا، ایران، جمیکا، اردن، قزاقستان، مکسیکو، نایجیریا، شمالی کوریا، پاکستان، فلسطین، سنیګال، سومالیا، سریلانکا، تونس، ترکیه، یوګندا، یمن او زیمبابوی
غونډې: د COMSATS مشرتابه شورى په کال کې یو ځل، په یو غړي هېواد کې غونډه کوي. د غړو هېواونو یو کلن کارونه څېړي او د راتلونکي له پاره د بنسټ تګلارې او پروګرامونه جوړوي.[1]

**۱۲ -- د آسیا د همکاري خبرې اترې (دیالوګ) Asia Cooperation Dialogue(ACD):**
د آسیا د همکارى ډیالوګ یا ACD د کال ۲۰۰۲ د جون په اتلسمه جمړ شوی او یو سیمه ییز بنسټ بلل کیږی. ۳۴ غړي هېوادونه لري. افغانستان د کال ۲۰۱۲ د اکتوبر په ۱۷ د دې ډیالوګ په غړیتوب ومنل شو.
د ACD اصلي هدف د آسیایي هېوادونو تر منځ، د اقتصادي او کلتوري اړیکو پراختیا، د خلکو د ژوندانه ښه والی، له بېوزلی او ترهګرۍ سره مبارزه، د طبیعي افتونو مخنیوی او د کرنې، ګرځندوی، ترانسپورت، تکنالوژي او بشري قواوو ملاتړ ګڼل کیږي.[2]

---

[1] http://comsats.org
[2] https://en.wikipedia.org/wiki/Asia_Cooperation_Dialogue


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ